# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد　　چو کشور نباشد تن من مبـــاد

از آن به که کشور به دشمن دهیم　　همه سر به سر تن به کشتن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |



د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن

۱۹ اگست ۲۰۱۳


## زیارکښان یوازې
## په خپلواکۍ، آزادۍ او برابرۍ کې له ستمونو خلاصیدای شي!

۹۴ کاله دمخه د افغانستان ولس خپله خپلواکۍ له پرنګیانو تر لاسه کړه. دا خپلواکۍ په سوالګرۍ او ګدايي تر لاسه نشوه، بلکې د افغانستان زیارکښانو د هیواد په ګوټ ګوټ کې وینې ورکړې تر څو یې پرنګي ښکیلاک په ګونډو کړ. که څه هم افغانستان خپلواکۍ ته ورسید او دې خپلواکۍ یو څه د زیارکښانو پر ژوند مثبته اغیزه وکړه، ځکه چې د پردیو له اسارته یې ځانونه خلاص کړل او د ستم یوه کړۍ یې ماته کړه، خو څرنګه چې باید د استقلال او خپلواکۍ جګړه ولسونه او په تیره بیا  زیارکښان له بیلابیلو او مختلفو ستمونو او ظلمونو څخه ژغورلی وی، هغسې ونشول او همدا و چې ډیر ژر افغانستان بیرته شاته لاړ او یو ځل بیا توره واکمني حاکمه شوه.

خو سره له دې، د افغانستان نومهال او معاصر تاریخ ښکاره کوي چې زیارکښان د اسارت او استعمار په مقایسه په خپلواکۍ او استقلال کې بهتره کولای شي د خپلو حقونو او غوښتنو لپاره سیاسي هلې ځلې او مبارزه وکړي او د استقلال ګټې او ثمرې د هر ډول ستم څخه د ژغورنې لپاره وکاروي.

دا وخت چې د افغانستان سیاسي، اقتصادي او حتی فرهنګي اختیار او واک له نژدې ۵۰ هیوادونو او په تیره بیا له امریکا سره دی او پرنګیانو یوځل بیا د امریکا تر څنګ زمونږ پر هیواد خیټه اچولی ده، د زیارکښانو لپاره د استقلال او خپلواکۍ اړتیا یوځل بیا اهمیت پیدا کړی دی، ځکه کله چې یو هیواد د بل هیواد په اسارت کې وي، شتمن او سرمایه داران په چرچیو کې وي او زیارکښان د هرې ورځې په تیریدو سره د رنګارنګو جنایتونو قرباني کیږي او هیڅ لاره نلري، غیر له دې چې لومړی د خپلواکۍ لپاره هڅه او کار وکړي او بیا له نورو ستمونو څخه د خلاصون لپاره.

زیارکښان هغه وخت په هوساینه او آرامۍ کې ژوند کولای شي چې سیاسي خپلواکي ټینګه شوي وي، زیارکښان آزادي ولري او په برابرۍ کې ژوند وکړي. زیارکښان د ټولنې اکثریت دی او کله چې مونږ له ملي منافع څخه غږیږو نو هدف مو د همدې اکثریت منافع او ګټه ده. ځینې بیراګان، همدا اوس د سرمایه دارانو او د امریکا منافع

«ملي منافع» ګڼي چې په خپله څرګندوي چې دا کسان د زیارکښانو په کتار کې نه یوازې چې نه راځي، بلکې د سرمایه دارانو او لوټمارو خارجیانو جارچیان او مربیان دي.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن باور لري چې ملي منافع هغه وخت ټینګیدلی شي چې د زیارکښانو منافع خوندي شي. د زیارکښانو منافع هغه وخت خوندي کیداې شي چې زمونږ د هیواد خلک په خپلواکۍ او استقلال کې ژوند وکړي او د استقلال او خپلواکۍ وروسته داسي یوه واقعي دموکراتیکه ټولنه رامنځته شي چې هلته زیارکښان چې د ټولنې اکثریت دی، داسي دولت رامنځته کړي چې د زیارکښانو حقوق محفوظ کړای شي.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن ټولو بیوزلو زیارکښانو ته د هیواد د خپلواکۍ او استقلال د ۹۴ مې کلیزې مبارکي وايي او آرزو لري چې ډیر ژر زمونږ د هیواد زیارکښان په استقلال، آزادۍ او برابرۍ کې ژوند وکړي.

ـ ۲۸ اسد ۱۲۹۲